فرهاد ویاړ


۰۶ اگست ۲۰۱۳

## ژرژ موستاکي،

## د آزادۍ او عدالت انځورونکی

د نړۍ په هنري تاريخ کې داسې ژمن، مبارز او آزادۍ غوښتونکي هنرمندان لرو چې پر خپلو ټولنو او مهالونو باندې ژوره اغيزه شيندلې ده. دا هنرمندان د ولسونو په زړونو کې تلپاتي او ترانې يې په غوږځنګونو، پاڅونونو، اعتراضونو او فريادونو کې زمزمه کيږي.

ژرژ موستاکي له هغه هنرمندانو څخه و چې د آزادۍ مين و، په عدالت يې باور درلود او انسانيت يې د ژوندانه هسکه ګڼله. دې فرانسوي هنرمند د ۲۰۱۳ کال د مې په ۲۳ نيټه په ۷۹ کلنۍ کې له نړۍ سترګې پټې کړې. موستاکي په ۱۹۳۴ کال کې د مصر په الکساندريا ښار کې د يوناني مور او پلار څخه وزيږيد. هغه د عدالت او آزادۍ لپاره ترانې ويلې او آزادي يې د بشريت لپاره تر ټولو ستره شتمني او ارزښت ګڼو. ژرژ د نيکوس تئودوراکيس سره په يونان کې د ديکتاتوران په ضد د موسيقۍ له لارې مبارزه کوله او اسپانيا او پرتګال يې هم له ياده ونه ويست.

ژرژ موستاکي موسيقي د ولس د آزادۍ او د انسانانو د برابرۍ لپاره د وسلې په توګه کاروله. دا وسله په مينه سمباله وه، داسې مينه ناکه توري او کلمې په دې وسلې کې سينګاريدل چې د هر با وجدانه او با احساسه انسان پر زړه يې مينه خپروله. دې مينې جغرافيايي پوله نه درلوده؛ کله چې په پرتګال کې د دې هيواد د ديکتاتور په وړاندې خلک کوڅو ته راووتل، ژرژ په خپلې يوې ترانې کې دا پاڅونونه وستايل او وی ويل چې «يو سور کشمالي په پرتګال کې ګل شو»، بيا يې د اسپانيا ولس سره د فرانکو د مرګ هيله وکړه او په يوې ترانې کې وويل:

ښوک به د فرانکو پرته اسپانيا کې د فلامينکو نغمه ووايي
هغه ورځ به د اختر ورځ وي
او زه هيله مند يم چې په داسې يوه ورځ په اسپانيا کې ووسم
او د فلامينکو نغمې ته غوږ کيږدم
په داسې ورځ به پيکاسو ميلمستيا ته راشي او کازال به ژوندی شي
دا ورځ به د جشن او اختر ورځ وي
او زړه مې غواړي په داسې يوه ورځ په اسپانيا کې وی.

ژرژ موستاکي د انقلاب پیام ورکاوه. هغه پیام ورکاوه چي د انقلاب لاره کړلیچنه، ستونزمنه او له قربانیو ډکه ده. اعتصابونه، زندانونه، اسارتونه، قمچین خوړونه، ګواښنه او ځورونه د انقلاب سره مل دي. هغه دا پیام په «بی له دې چي نوم يي واخلم» ترانه کي داسي پنځوي:

زړه مي غوښتل بی له دې چي نوم يي واخلم
په اړه يي له تاسو سره خبرې وکړم
د يوې میني محبوبی په شان بی وفا
هغه ساده او سرمسته انجلۍ
چي د ښاديو د سبا په ځلانده سباوون کي
له خوبه راپاڅيږي.

هماغه چي په قمچيني وهل کيږي
تعقيب کيږي، په لومه کي اچول کيږي
هماغه چي پاڅون کوي
رنځونه ګالي او اعتصابونه کوي
هماغه چي په زندان کي اچول کيږي
ورسره خيانت کيږي، خوشي کيږي
هماغه چي مونږ ته د ژوند شوق رابخښي
تر پايه تر پايه ورپسي د تللو شوق رابخښي.

زړه مي غوښتل بی له دې چي نوم يي واخلم
هغه وستايم
د هاله په منځ کي روښانه سپوږمی، ښايسته ګل، وحشي ميوه
د چنار په شان دنګه ونه، استواره
آزاده با وقاره درومي
هر چيرې چي زړه وي.

زړه مي غوښتل بی له دې چي نوم يي واخلم
په اړه يي له تاسو سره خبرې وکړم
محبوبه نا محبوبه، وفاداره
که غواړئ چي دروی پيژنم
نوم يي دی
دومداره انقلاب!

«بی دله دې چې نوم يې واخلم» ترانه، ژرژموستاکي په ۱۹۶۹ کال کې ليکلی، آهنګ يې ورته جوړ کړی او بيا يې په خپل غږ ويلی ده. دا ترانه په ۱۹۷۰ کلونو کې د کيڼ انقلابي غورځنګونو لپاره د مبارزې سمبول ګڼل کيده.

د ژرژ موستاکي بله مشهوره ترانه «زما آزادي» ده. هغه له آزادئ سره مينه درلوده. هغه آزادي هغه وسيله ګڼله چې د زنځيرونو په شلولو کې ورسره مرسته کړی او همدا دی چې پيام ورکوي چې آزادي بايد لکه مرغلره وساتو. دلته د دې ترانې يوه لنډه برخه رانقلوم:

ای زما آزادي،
ته مې د مودو لپاره
لکه مرغلرې وساتلې
ای زما آزادي
دا ته وې چې مرسته دې وکړه
چې زنځيرونه مې وشلوم
او هرې خوا ته لاړ شم
د بخت واټونه تر پايه پل کړم
او په خيالونو کې مې
د سپوږمی د رڼا پر سر
له باد څخه يو ګل وشکوم.

ای زما آزادي!
ستا د غوښتنې په وړاندې
اروا مې تسليمه وه
ای زما آزادي،
ما هر څه له تا قربان کړل،
ان د ځان کميس مې
او ځومره رنځونه مې وګالل
چې تا راضي کړم.

هر هغه څه چې تا وغوښتل!
ما تر سره کړل
له خپل هيواد څخه لاړم
ملګري مې ورک کړل
خو ستا غوښتنې پوره کړم
ای زما آزادي!